UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

## باید د بشري مرستو د کارکوونکو ساتنه وشي او تر برید لاندې و نه نیول شي

**18 اگست 2010، کابل** – 19 اگست د بشری مرستو نړیواله ورځ نومول شوي او دا هغه شيبه ده چې موږ باید د افغانستان هغو ښځو او نارینه وو ته درناوي وکړو چې د هغو کسانو د ژوند د ژغورلو او روغتیا ساتنی په کار بوخت دي چې د روانی جګړي او یا هم له طبیعی ناورینونو څخه د را پیدا شوي بیړنی حالت له امله اغیزمن شوي دي.

زیاتره وخت د مرستو کارکوونکی په یوه سخت چاپیرل کې کار کوي او هغه کسان چې په دغې لار کې مرستي ترسره کوي خپل ژوند له ګواښ سره مخ کوي. دغه ورځ هم هغه شيبه ده چې موږ باید د بشري مرستو د هغو کارکوونکو یادونه وکړو چې خپل ژوند يې د نورو لپاره په خدمت کې له لاسه ورکړي.

ناورینونه او جګړه هر کال زرګونو افغانانو ته د ستر کړاو لامل ګرځي. د افغانستان په ځینو برخو کې ورستیو سیلابونو یو ځل بیا دغه مساله زموږ په یاد کړه. د بشري مرستو کارکوونکی هڅه کوي چې دا ډاډمن کړي چې هغه کسان چې د دغو پیښو له امله له ستونزمن حالت سره مخ شوي او د ژوند ژغورلو مرستو ته اړتیا لري، هغه تر لاسه کړي. د بشري مرستو کارکوونکې په افغانستان کې بیړنی خوراک، سرپناه او طبی مرستی رسوي چې هره ورځ زرګونو افغانانو ته د مرګ او ژوند تر منځ د بدلون په مانا دي.

سږ کال په ټوله نړۍ کې د بشري مرستو پر کارمندانو باندې د بریدونو په شمیر کې زیاتوالی تر سترګو کیږي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي د احصاییو پر بنسټ د سږ کال د جنوری له لومړی نیټی څخه بیا د جون د میاشتی تر ۳۰ پورې د ملګرو ملتونو او بشري مرستو کارکوونکو ته د ګواښنی ۴۷ پیښې ثبت شوې دي. د ملګرو ملتونو او د بشري مرستو پر ۱۹ کارکوونکو باندې بریدونه ترسره شوي، ۶۳ تنه تښتول شوي او د یادو شویو کارکوونکو او د ملګرو ملتونو له غړو څخه ۷ تنه وژل شویدي.

**رابرټ واټکینز د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړی استازی مرستیال او د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږه کوونکې وویل:** "ملګري ملتونه نن ورځ د جګړي پر ټولو خواوو باندې غږ کوي چې د بشري مرستو د کارکوونکو درناوي وکړي او هغوي ته اجازه ورکړي چې خپله دنده تر سره کړي. د بشري مرستو کارکوونکي د انسانیت، بی پریتوب، ناپیلتوب او خپلواکي د اصولو پر بنسټ دنده تر سره کوي. باید د بشري مرستو د کارکوونکو ساتنه وشي او تر برید لاندې و نه نیول شي. دوي باید په افغانستان کې له ویرې څخه په خلاص چاپیریال کې کار وکړي تر څو د دغه هیواد د زیاتو زیانمنیدونکو وګړو سره مرسته وکړي."

**د ایډیټورانو لپاره یادابښت:**
**کلیدی بشری مرستي د ملګرو ملتونو د ادارو له خوا په افغانستان کی:**

- د کله راهیسی چې په کال ۲۰۰۲ کی د کډوالو داوطلبانه راستنیدل پیل شوي دي، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د ۴,۵ میلیونه افغانانو سره په راستنیدلو کی خپلو ټاټوبو ته مرسته کړي ده چې په ډول افغانستان د نړی تر ټولو د زیات شمیر د راستنیدونکو شمیر لری.

- سږ کال د آګست تر شپاړلسمی نیټي پوری ۹۷۰۰۰ تنه افغان کډوالو چی د پاکستان او ایران څخه راستانه شوي دي د ملګروملتونو د کډوالو د اداری څخه مرستي تر لاسه کړي دي.
- د ۳۰۰۰۰۰ څخه زیاتو راستنیدونکو او کورنیو بی ځایه شویو وګړو د کال په لومړی دری میاشتو کی د بیا میشته کیدنی ملاتړ د ټولنیز فعالیتونو، د ټولنیز زیربنا ملاتړ، د کور ودانول، معیشیت، تعلیم او تربیه او روغتیایی پروګرامونه په چوکاټ کی د ملګرو ملتونو هبیتات د اداری څخه تر لاسه کړي دي.
- د روغتیا نړیوال سازمان سږکال د ګوزن د واکسین په دوه دورو کی هر ځل ۷،۵ میلیونو هغه ماشومانو ته رسیدلی دی چی عمر یی د پنځه کالو څخه کم دی. هر کال د ګوزن څلوری دوری په ټول هیواد کی تر سره کیږي.
- سږکال د ملګرو ملتونو د خوراک نړیوال سازمان په نظر کی لری چی ۷ میلیونه افغانانو ته بیړنی خوراکی مرستی ورسوي. چی په دی کی د ښوونځیو ماشومانو ته هم خواړه برابریږی تر څو په ښوونځیو کی د داخلی کچه لوړه شی او د هلکانو ا انجونو تر منځ واټن د داخلی له نظره کم شي.

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره د لاندنیو شمیرو سره اړیکه ونیسي:**

○ نیلاب مبارز (پښتو او دری): 503 662 0797
○ نظیف الله سالارزی (پښتو او دری): 504 662 0797
○ دن مک نارتن (انګریزی): 358 270 0700